# په پښتني ټولنه کښې د تشدد عنصر: تنقیدي څېړنه

## Critical analysis of violence in pashtoon society

Dr. Barkat Shah Kakar*

**Abstract:**

The statement that, "Pashtun constitute the largest segmentary tribal system in the world" has been validated by various anthropologists in the wake of 70 years work on the subject. It is the code of *Pashtunwali* that governs the daily life of an ordinary Pashtun living in the villages or roaming for sustenance as gypsies. Up to some extent, it also implies to the lives of newly settled Pashtuns in the metropolitan cities and towns. Like other tribal and patriarchal societies, the cultural construction of *Pashtunwali* also inherits practices and norms that legitimize violence in specific circumstances as a phenomenon widely accepted at social level. This paper tends to probe the question of cultural acceptance of violence in the socio-cultural and indigenous tradition of *Pashtunwali*. The paper constructs its theory and conclusion on the basis of empirical data collected from the five districts mentioned in the details. The paper elaborates the cause and effect relationship of the occurrences of violence and its restraints, especially on the social groups like women, children and social minorities.

**د جنګ او انساني فطرت تلازمه:**

کوم مفکرین چې جنګ او تشدد د انساني فطرت نه بېلېدونکي توکي ګڼي، هغوی په دې اند دي چې انسان په فطري توګه جنګیالی او جنجال خوښونکی دی. ځکه خو هغه ستر ستر تهذیبونه جوړوي او بیا یې ړنګوي هم. جنګي جبلت د انسان په داخل کښې هغه وینه دی چې د لویو تهذیبونه د ورانولو پېلامه جوړ شوی دی.

د جنګ او تشدد په هکله یو عمومي تصور چې ورباندي تر ډېره وخته پوهان رضامند وو دا دی چې جنګ د انساني تهذیب سره اوږه په اوږه ارتقائي یون کړی دئ او جنګ

* Assistant Professor Department of Pashto University of Balochistan Quetta

په ارتقائي توګه د انساني فطرت داخلي مجبوري ګر زېدلې ده. د ارتقا د نظر خوښونکي په دې اند دي چې د تېرو ۷ مليونو کلونو پېر کښې انسانانو په خپل مينځ کښې د جنګ پيوسته عمل ته دوام ورکړی دی.

خو د خوندي شوي تاريخي پېر څخه اول چې پر نړۍ انسانانو څه ډول ژوند کړی دی په هغه کښې جنګ د يو منظم اداري په بڼه په نظر نه راځي. د تاريخ څخه پېښ چې کومي ټولني پاتي شوي د هغوئ د امنيتي وضعي ګواهي هغه لرغونې آثار هم ورکوي چې د غارو د پينټېنګ يا د هغوئ د وسلې په بڼه د لرغونپوهانو او تاريخ پوهانو و لاس ته رسيدلي دي. تاريخ پوهان د صنفي، ټولنيز او ډله ايز توپيرونو ادامه د تيرو ۶۰۰۰کلونو څخه پيل بولي، چې د زرعي دور څلور زره کاله وروسته دی. د تاريخ په هم دې پېر کښې منظم فوځونه او رياستونه په وجود کښې راغلي دي او له هم دې ځايه د مذهب په نامه جنګونو پيل شوي دي.

په کال ۲۰۱۳ کښې دوو بشر پوهانوجوناتهن هاس اوميتهيو سيټلي د سوډان د لرغوني تهذيب د آثارو مطالعه کړې ده. هغوی د دې سيمي د کيندل شوي تهذيب اديره موندلې ده، قبرونه يې کيندلي دي. دلته يې د ۲۹۰۰ مړو د کوپړيو جاج اخيستی دی او په دې سود رسېدلي دي چې يواځي يو ځای داسي شوايد شته چي د شلو تنو شاوخوا ژوبل شوي جسدونو موندل شوي دي، کومي کوپړياني چي مطالعه شوي دي په هغو کښې يواځي ۴ کوپړياني د څه ګزار (چوټ) خوړلو اثرات لري(1).

په انساني ټولنيو کښې د جنګ او تشدد تصور د ملکيت د تصور سره جوخت راغلی دی. تاريخ پوهان د انساني تاريخ لومړئ پړاو د ډبري دور بولي. دغه دور چې پر درو ذيلي پېرونو (عهدونو) وېشل شوی دی قابو د ۲۴ مليونو څخه تر لس زره کلونو پوري اټکل شوي دي (2).

د ملکيت په زومره کښې پخوا هم او نن هم مځکه، مال ، اولاد او خصوصا ښځينه راځي. کله چي د انساني ټولني ګذاره پر ښکار وه هلته د ذاتي ملکيت تصور نه وو. د خوراک وخت معلوم نه وو، کله چي به خوراک پيدا

شو هم هغه وخت به يې خوړلو، د غوښي د زيرمه کولو هنر د انسان نه و زده. انسانانو ورو ورو د غوا، چرګي، سپي غوندي يو څو حيوانان د ځان ملګري کړل(3)

خو بيا هم اجتماعيت پر انفراديت فضيلت درلود ولي چي انسانانو د فطرت او د خطرناک ځناورو په مقابل کښې ځان غير محفوظ ګڼلو. بله دا هم ؤ چې ښکار په ټوليو او ډلو کښې کيدلی. د هغه وروسته بيا په کوچيانې ژوند کښې هم د انسان بقا په خوراک ميندلو او پر له پسې حرکت کښې وه. ددې دور د ذاتي ملکيت تصور هغه وخت مينځ ته راغلی دی کله چي انسان د مځکي سره و تړل شو، او خوراک ، پوښاک،او استوګن ځای هم هلته پاتي شو. په لنډو ټکو کښې به دا ووايو چې زرعي انقلاب چې له نن څخه قابو لس زره کاله پخوا پيل شوی وو چي له امله يې د مځکي پر مخ د انسان او فطرت زوړ تعلق و شلاوه او د نوې تعلق سريښته يې کښېښودله.

د لوئ بنسټه او منظم انساني جنګونو لړۍ له هم دې ځايه را پيل کيږي. د لرغونپوهني او تاريخ نور اثار موږ ته دا حقيقت را ښيي چې څومري چې انساني ټولني د خوراک، څښاک، او نورو انساني ضرورتونه پوره کړي دي، هغومري په ټولنه کښې جنګ و جدل ، تشدد و تيرې رجحان ذيات شوی دی. د يوې پلټني له رويه اټکل شوی دي چي په تيرو ۵۶۰۰ کلونو کښې يواځي ۲۹۲ کلونو پر امن پاتي شوي دي. او په دې پېر کښې لږ تر لږه ۳۵۰ مليونه انسانان د نورو انسانانو تر لاس تېر شوي دي او قابو ۱۴۰۰۰ جنګونه د انسانانو تر منځ واقعه شوي دي. (4)

خو د تيرو پنځو صديو په اوږدو کښې د يورپي شکيلاک ګرۍ په ترڅ کښې د ظلم، جبر ، استعماريت اور نسل کشئ نوي تعبيرونه وړاندي شوي دي. د نړۍ پر ۸۰ فيصده برخه د ۲۰ فيصده انسانانو سلطه قابو تر پنځو پيړيو پوري دوام و درلود. لومړۍ او دوهم نړۍ وال جنګ د هم دې استعماريت ژوندۍ نخښې وې چي پکښې تر دوه کروړه ذيات انسانان ووژل شول. د دوئم نړيوال جنګ وروسته هم په نړۍ کښې د خونړي (کورني، رياستي) جنګونه او شخړي دوام لري.

**د تشدد عمومي لامل او ډولونه:**

د تشدد یا د وهلو ترټلو رویې او عمل په هره انساني ټولنه کښې په څۀ نۀ څۀ بڼه موجود وي. د نفسیات پوهانو د پلټنو او ګروېژنو څخه ثابتیږي چې د تشدد او وهلو ترټلو رجحان په هر انسان کښې وي. ځیني انسانان پر خپل ځان اختیارلري او ځیني د ځان په اختیار کښې نۀ وي او داسې رویې خپلوي چې ورڅخه مطلق تشدد او جبر زیږي. انسان په فطري توګه خوني یا تشدد کونکی نۀ پیدا کیږي. د تشدد، عصبیت، نفرت او منافرت او د نورو دردولو ټولې رویې د ټولنې پیداوار دي. د انساني ټولنې د مطالعې څخه دا خبره جوتیږي چې انسان د ویري، بدلې، طاقت او حاکمیت ساتلو له پاره وهل/تشدد کوي. هم دغه ټول لامل د ټولنې پیداوار دي. لکه څۀ ډول چې د کولمبس د فتوحات په وخت کښې د امریکې ځایي اولس د ملکیت، زوجیت او وراثت تصور نۀ درلود، هم دغه وجه وه چې دلته خلق یو له بل سره نۀ جنګېدل او هیڅ ډول داسې وسله یې نۀ وه ایجاد کړې چې انسان دي پرې ؤ وژل شي(5). د انساني تشدد تر شا چې کوم جوازونه ټولنې پیدا کړي دي، د هغه لامل دولت، اختیار او خپلې عقیدې پر نورو تپل دي.

د انساني بدن او دماغ د مطالعې څخه د داسې اعصابي رګونو دخُلیو درک مېندل شوې دې چې ورته (Mirror Neurons) وئیل کیږي . په دې هکله د کېلیفورنیا پوهانتون نیورو سائنټسټ مرو *(Marco Iacoboni)* د دغه خُلیو پر انساني تعلقاتو د اثر اندازی بشپړه کار کړې دې. هغه په دې هکله لیکي:

> "What makes these cells so interesting are that they are activated both when we perform a certain action—such as smiling or reaching for a cup—and when we observe someone else performing that same action. In other words, they collapse the distinction between seeing and doing"(6).

ژباړه: "دغه خُلیې ځکه په زړۀ پورې حېثیت لري چې کله موږ کار کوو، مطلب خاندو، یا د چایٔ و کپ ته غزیږو او کله چې موږ ووینو چې یو بل څوک هم دغه کار کوي په دې صورت کښې هغه د ځان او هغه بل کس تر منځ د توپیر کولو څخه عاجزه شي".

په تېرو لسو کلُونو کښې نفسيات پوهان ودې نتيجې ته رسېدلي دي چې د تشدُد او وهلو ټرټلو د رويې تر شا تر ټولو اساسي لامل هم دغه د اعصابي خُليې دي چې ورته (Mirror Neurons) وئيل کيږي . د دې خبرې ثبوت د هغو کسانو د نفسياتي تحليل څخه شوی دی چې د مطلق تشدد رويې يې خپلې کړې دي او قتلونه يې کړي دي. د دغو پلټنو پايله دا ده چې زياتره خلق د تشدد رويه هغه وخت خپلوي کله چې ورسره تشدد وشي يا هغه په خپل چاپېريال کښې تشدد ؤ ويني يا د تشدد ستاينه واوري.

تشدد څۀ ته وائي؟ او د دې څو ډولونه دي په دې هکله د نفسياتو او ټولنپوهنې پوهان بېلا بېلې رائې لري. په نړۍ کښې د تشدد د مخ نيوي لپاره په حرکت کښې موسسې او تنظيمونه په دې هکله په يوه خوله دي. په دې هکله د د تشدد تعريف (Violence Prevention Alliance)په لانديني کښې کړئ دې.

> "The intentional use of physical force or power, threatened or actual, against oneself, another person, or against a group or community, that either results in or has a high likelihood of resulting in injury, death, psychological harm, and deprivation.(7)"

ژباړه: "د جسماني قوت او طاقت ارادي استعمال د خپل ځان، يا بل کس، ډلې يا کميونټي په ضد کارول يا د کارولو دهمکۍ ورکول، چې په نتيجه کښې د ټپي کېدو، وژل کېدو، نفسياتي زيان رسېدو، مالي تاوان او محرومۍ خطر موجود وي".

د تشدد بېلا بېل ډولونه وي. په ساده ټکو کښې جسماني، نفسياتي يا زهني او جنسي تشدد داسې ډولونه دی چې بېلا بېلي بڼې او ډولونه د دې برخې وي.

د تشدد عمل په ټولنه کښې په هره اولسي او رياستي اداره کښې تر سره کېږي . په کورونو، سکولونو، جوماتونو، کارخانو، دُکانو، لنډه دا چې د کار کولو او اوسېدلو په بېلا بېلو ځايونو کښې عملي کېږي .

د ټولنې په سويه دغه عمل عموماً د کمزوري ټولنيزې طبقې، صنف، عمر، جنس، يا نسل په ضد تر سره کېږي . په عمومي توګه ښځې، مريان، بزګران، مزدوران، تورپوستي يا کسب ګر د ټولنې د طاقتورو ډلو او کهولونو او قبيلو له لاسه د تشدد،

منافرت، تعصب او کرکې سره مخامخ کېږي . په نسلي، طبقاتي او ټولنيزه سويو چې کوم کمزوري ډلې راځي هلته بيا هم واک واختيار د نرانو سره وي. ښځې که د مريانو وي، کسب ګرو يا بزګرانو او مزدورانو وي، د نرانو د حُکم تابع وي. په داسې ټولنيز نظام کښې د ظلم او جبر طاقتي ډهانچه د ښځيو په ضد په حرکت کښې راځي. په کور کښې چې کوم تشدد پر ښځينو کېږي هغه ته په نړۍ کښې کورنی تشدد (Domestic Violence)وئيل کېږي . د کورني تشدد په هکله (Encyclopaedia Britannica Online) ليکي:

"Domestic violence, social and legal concept that, in the broadest sense, refers to any abuse including physical, emotional, sexual, or financial between intimate partners, often living in the same household. The term is often used specifically to designate physical assaults upon women by their male partners, but, though rarer, the victim may be a male abused by his female partner, and the term may also be used regarding abuse of both women and men by same-sex partner".(8)

ژباړه: "کورنی تشدد ټولنيز او قانوني تصور دی چې په عمومي توګه د جسماني، جذباتي ، جنسي او معاشي تشدد او استحصال عمل بيانوي چې د هغو وګړو تر منځ وا قعه کېږي چې په يوه کور کښې استوګنه سره کوي. دغه اصطلاح عام طورپر ښځيو د کورني نرانو لخوا د جسماني تشدد لپاره استعماليږي.خو په ځيني صورتونو کښې نارينه هم د ښځيو له لاسه د تشدد هدف جوړېږي، يا داسي هم وي چې د يوه جنس خلق يو پر بل تېرى او ظلم وکړي".

**په پښتنې ټولنه کښې صنفي تشدد:**

تشدد کول او زغمل په نفسياتي توګه داسې پېچلې رويې دي چې ريښې يې په ټولنيز رغښت کښې ښخي وي. د متشدده روئيو د څېړنې څخه د کلتور او ټولنې بشپړه تهذيبي څېړنه په عمل کښې راځي. په لرغونې پښتنې ټولنه کښې د تشدد په هکله څۀ ډول رويې پاتې شوي دي، لنډه څېړنه يې لاندې شوې ده.

د پښتني ټولنې د څېړلو څخه موږ په دې حقيقت خبرېږو،چې نۀ يوازې دتشدداو جبر ولګې شتون لري بلکې دغه زور او طاقت چې ورلره ټولنې ورکړي وی عموماً د کمزورو په ضد کارول کيږي . خصوصاً د زنانه او کوچنيانو وهل تر ټل يو ټولنيز جواز لري. که د ښځو په هکله د ظلم او جبر څېړنه وشي نو د عزت او ننګ پر نامه د ښځو وژنه، پر معمولي خبره د ښځې وهنه، ترټنه، پېغورونه، پُچ ؤرد او ښکنځلې زغملو دمعاشي، تولنيزو او تعليمي حقوقو څخه هغوی بې برخي کول او داسې نوري ډېرې خبري دي چې په ټولنه کښې ورته قبوليت حاصل دی او دا ټول زغمل د ښځيو په زمه وارۍ کښې راځي. دغه ستونزه يوازې و پښتنو ته نۀ د ورپېښه، بلکې دا وخت د پاکستان زياتره ښهري او قبايلي ټولنې د دې صنفي امتيازاتو او متشدده روئيو انعکاس کوي. په اوسنيو کښې د نړۍ ايزي سوېې صنفي توپېر څېړنه شوې ده چې پکښې 142 ملکونه مطالعه شوي دي او پاکستان پکښې پر141 نمبر دی(9).

د دې علاوه پر کوچنيانو د تشدد او جبر ټولنيز جواز هم دلته په هره قبائلي او ښاري ټولنه کښې يو ډول خور وور دی. د رياست له اړخه قوانين شتون لري خو، د رياست قوانين په روايتي ټولنو کښې بې اثره وي. لکه څۀ ډول چې په بلوچستان ايالت کښې په سکولونو کې د کوچنيانو پر وهلو بنديز دی، خو نن هم په هر ښوونځي کښې ښوونکي پر دې کلک يقين لري چې د لوست او زده کړي عمل د کوتک سره نۀ شلېدونکی تړون لري.

د دې پلټنې په دوران کښې محقق د يوې غېر سر کاري ادارې (IDRAK-For Change) سره د تشدددبېلابېلو ډولونو دپلټنې او څېړنې له پاره د سوېلي پښتونخوا په پنځو ضلعو کښې اجراشوې ده. ددې مقداري او معياري پلټنې په ترڅ کښې ډېر داسې سوالونه چې زما يې ځواب په کاروو رامينځ ته شول. بل دا چې په دې پنځو ضلعو کښې له نېکه مرغه د دې تحقيقي ساحې سره نېغ په نېغه څلور ضلعې تړلې دي، چې په کښې پښين، کوټه، لورالايي او قلعه عبدالله شامل دي.

په مخصوصه علاقو (Locale) کښې څۀ ډول اولسي رويې لري په دې لړ کښې د يوه بشپړه سوالنامې له لارې د ۱۰۰ کسانوسره په ذکر شوي پنځو ضلعو کښې معلومات راغونډ کړل شو. په دې پلټنه کښې د زنانه او نارينه دواړو صنفونو سره دتعدادبرابرۍ پر بنيادمعلومات راغونډ کړل شو. دلته دهغه پلټنې لنډيز به زموږ مرام بشپړه کړي.

تقريباً ۸۰٪ځواب ويونکي وائي چې هغوی په خپل عادي ژوند کښې د تشدد يو نۀ يو ډول روزانه په خپلو کورونو او چاپېريال کښې حتماًويني. ددې پلټنې په ترڅ کښې ۹۰ فيصده ځواب ويونکو کوشنيان وهل او ترټل يو ټولنيز قدرګڼي. ددې څخه د ا حقيقت را بر څېره کيږي چې پر کوچنيانو جبر، ظلم او دهغوی وهل او ټکولو ته ديوه ټولنيز قدر او جواز حيثيت حاصل دی. د زنانو د وهلو او ټکولو په هکله لاندينۍ طنزيه جملې ، او ټولنيزې کرکې کږنې (Myths and Stereotypes) شتون لري.

- د ښځې پير سوټی دی
- ښځه د شېطان له ذاته ده
- ټُو پر زنانه ، هم پر ښۀ هم پر ګنده
- چې ډب نۀ وی ادب نۀ وي
- پک ته دي خدائ نوکان نه ورکوي

د ښځو سره دناروا سلوک، دهغوی د جسماني او جذتاتي تشدد په هکله ډېرې کېس استډيز هم په دغه پلټنه کښې رامينځ ته شوې او هم له نورو لکه دپرنټ اواليکټرانک ميډيا له لورې جوتې شوې دي. خو په دغه پلټنه کښې تر ټولو زړۀ دردونکي جبر دهغه زنانو سره کيږي چې واده وي او هغه زنانه چې په سرۍ، مخۍ يا بدل کښې ورکول شوې وي هغه تر ټولو سخت تيرې ګالي (زغمي). په دې هکله يو ډېر د پام وړ متل يوه ځواب ويونکي کړې دې چې هم دغه متل په دري ژبه کښې هم شتون لري. ددې متل پس منظر داسې دی چې څۀ وخت يوه انجلۍ واده شي نو دهغې خپل خاندان هڅه کوي چې هغه د خپل نوي خاندان ټوله نظام پر ځان ومني او خپل کلي و جزوي اختيار دي وهغوی ته حواله کړي. له دې سره سم د انجلۍ خاندان د هلک وخاندان ته د هغې د وهلو او ترټلو حدود هم ورښيي. دا خبره په ټولنه کښې معروف ده چې د واده

ښځې غوښه د خسر ګنی (سخر ګنی) ده او دهغې هډونه د پلرګنی دي. ددې مطلب دادی چې پلرګنی به هغه وخت د خپلې خورلڼې دوهلو پوښتنه کوي او نوټس اخلي کله چې هغې ته یو لوئ زیان ورسیږي، یعني هډ یې ور مات کړي. مطلب دا چې د معمول په وهلو، ترټلو او بې عزته کولو کښې د انجلۍ کورنۍ هیڅ ډول دخل اندازي نۀ شي کولی.

صنفي تشدد (Gender Based Violence) نورې هم ډېرې بڼې په پښتني ټولنه کښې لېدلی او محسوسېدلی شي. خصوصاً د جنسي تشدد په هکله هیڅ یو متاثره کس که نر وی یا که ښځه د اظهار تصورهم نۀ شي کولې. ولې چې په زیاتره پیښو کښې چېرې چې د دغه ډول تشدد خبره ټولنې ته راووزی، نو دلوئ پېمانې دتشد ،کورنۍ او قبائلي بدیو پیلامه جوړیږي. په هم دغه پلټنه کښې دا خبره هم مینځ ته راغله چې د جنسي تشدد متاثره نر یا ښځې د خپلې کورنۍ یا ټبر له خوا ډېر سپک کړل شي، او ځنې وخت خو وهل،یا وژنه دهغوی مقدر جوړ شي. ځکه نو په پښتني ټولنه کښې ډېر کم خلق د دې نا انصافیانو په داسې انداز کښې ذکر کوي چې و ظالم یا قصور واره ته دې سزا ورکړل شي.

لنډه دا چې د کوشني او زنانې وهل په قبایلي پښتني ټولنه کښې هر څوک د خپل کور داخلي معامله(Private Matter) ګڼي. پښتانۀ په کوڅه، بازار یا دکلي په مینځ کښې خپلویا پردیو (بیګانه) زنانو ته لاس اچول، وهل یا ترټل د مېړانې سپکاوی بولي. خو ټولنې ته دا حق نۀ ورکول کیږي چې په کور کښې چې کوم وهل ترټل او تشدد (Domestic Violence) کیږي، دهغه په هکله دې پوښتنه وکړي یا دې څۀ ډول مداخلت او اختلاف څرګند کړي. که څه هم دا ټولنیزه روئیه د پښتنو د ځنګ لورو قومونو په قبائلي ټولنو کښې هم تر سترګو کیږې، ځکه نو ودې عمل ته د نرانو د واکمنۍ یا حاکمیت نوم ورکول کیږي.

د صنفي تشدد د لاړ نیولو په هکله د پښین یوه سپین ږیري د زناني کنټرول اصل حل و بالی. هغه متل تېر کړ چې،" خپله اسپه تر خپلو پښو لاندې راداره ساته". دلته ښځې ته د اسپې سره تشبیه ورکول شوې ده، باید چې راداره، (رام، سدهاو) کړل شي چې په

انګلسي ژبه کښې ورته (Domestication) وئيل کېږي . دهم دغه عمل له پاره وهل او ترټل لازمي جز دي چې ورته په حرف عام کښې وايي" چې ډب نۀ وي ادب نۀ وي". نور لا څۀ کوې خوشحال بابا هم د کوچنيانو د تربيت له پاره ډب او ادب يو دبل سره لازم وملزوم ياد کړې دي.

**د نرانو تر مينځ د تشدد صورتونه او ډولونه:**

صنفي تشدد پر ته په پښتني ټولنه کښې د وهلو او ترټلو عمل د ټولنيز رغښت داخلي برخه دی. که يوه خوا ته دپښتني ټولنې ټول کاوړ او خښم پر زنانه او کوچنيانو وزي نو بل پلو ته د نرانو په هکله دوهلو ترټلو ټولنيزې رويې او معيارونه بېخي بدل دي. لکه څۀ ډول چې وختي ووئېل شو چې يو پښتون د نورو پښتنو او دنيا سره تعلق د برابرۍ او سيالۍ پر بنياد جوړوي ځکه نو د هر کس پور او تور شته. پښتانۀ متل کوي چې، "هيڅوک د کاڼو او بټو نۀ دي پيدا"، د دې معنا هم دا ده چې د يوه کس سره هم تېرى يا جبر کول جواز نۀ لري، ولي چې د هغه فرد تر شا د هغه خپلوان، تربرونه او قبيله ولاړه وي. د بدلې دغه سخت تصورکم ازکم د تشدد په کمبوت کښې ځانګړې رول لوبولی دی.

خو د پښتونولۍ قبائيلي نظام چې څۀ ډول ټولنيزې رويې زېږوي او په شفاهي روايت کښې چي و کومي خبرې ته اهميت ورکول کيږي ، هغه د مېړانې او ننګ هغه تصور دی چې وګړي و بدله اخيستلو او زيات تشدد کولو ته لېواله کوي. لکه څۀ ډول چې د تشدد په نفسياتي لاملونو کښې ووئېل شو چې متشدده روئې د ټولنې پېداوار وي. د مثال په توګه که د زياتره شخړو او تشدد "پېغور" وي. چونکه پېغور د ټولنيز احتسابي نظام داخلي جز دی، او د ټولنې په رغښت کښې تر ټولو اغېزه ناکه رول لري. له دې پرته خلګ هغه کوي چې مشاهده کوی يې، ځکه نو د چاپېريال او ټولنې فشار خلق و دې ته اړ باسې چې د مخصوصه متشدده روئيې اظهار وکړي.

د پښتنو په هکله چې کومې غلطې مقولې معروف شوي دي، په هغو کښې تشدد د پښتانۀ د کردار لازمي برخه ګڼل شوې ده. اکاډميسن محمد انور نوميالی په خپل اثر، " د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي" کښې د هم دغه غلطو تصوراتو په هکله ليکي:

"پښتون بهادر دی،تورزن دی، په مړانه او شجاعت فخر کوي، پښتون ته ډارن وئيل کنځلې دي... پښتون پېدا شوی ننګيالی، جنګيالی او توريالی دی... پښتون غصه ناک او تند مزاج دی ، پښتون جذباتي دی، پښتون په بدل ژوندی دی، پښتون غيور او جسور دی. د ښځې په عزت او عصمت هميشه قتلونه او مرګونه کوي"(10 ).

هم دغه ډول تصورات موږ ته د پښتونولۍ په څېړلو کښې د نور ليکوالانو په ليکنو کښې هم په نظر راځي. د پښتنو د توريالیتوب د صفت په هکله اُستاد قيام الدين خادم په خپل اثر، "پښتونولي" کښې ليکي.

هو! ده هم هغه د توريالیتوب د روح اثر دی، چې د دې قام د ښځو، نرو، وړو، غټو په وينه کښې دی. موږ تر اوسه پورې، سبا ښځا، د سردار محمد ايوب خان، غازي محمد جان خان، وزير محمد اکبر خان، عمرا خان د باجوړ، ملتان د تيرا، او داسې نور بهادرانو د بهادرۍ سندرې په کوڅو کښې د ځلميانو د خولې څخه په موثره او خوندوره لهجه سره اورو او حظ ترې اخلو، د توريالیتوب حس نۀ دې نو څۀ دي؟"(11).

که څۀ هم دغه تصورات او مقولې کورټ چټيات دي، او هيڅ حقيقت نۀ لري ولي چې د انسانانو رويې د يوه تاريخي ټولنيز عمل تر اثر لاندي جوړيږي. پياوړتيا، زړه ورتوب او بهادري يو داسي توک نه دئ چي د و ګړو د جينز (تخم) سره دي نيغ په نيغه تعلق ولري. خو په قبايلي ټولنه کښې هم دغه خبرې پر ډېره نخښنې ګڼل کېږي.که د يوه کس پلار يا نيکه بدي داره ؤ، خلق يې وژلي وو يا يې و هرچا ته يې د بريت د ول غوندي کړه خبره کوله نو د هغه د زوئ او نورو کشرانو څخه هم دا هيله او غوښتنه کيږي چي د خپلو مشرانو غوندي بايد زيړه او تکړه پاتي شي.

د مخصوصه قبائيلي طرز ژوند پښتانۀ د نورې نړۍ څخه جلا کړي دي. ستونزه دا نه ده چي پښتانه ولي قبائلي دي، بلکه اصل ستونزه هم داده چي د نورو څنګ لورو قومونو غوندي د پښتونولۍ د لرغوني نظام ولګي وچي شوي ده اور د شنډتيا و لورته يې مخ دی.

د پلټني څخه یوه مهمه خبره منځ ته دا راغله چې د تشدد تر ټولو لوئ لامل د ننګ او غیرت تصور هم دی. ننګ خالصتاً مردانه تصور دی چې تعلق یې د تشدد او جنګ کولو سره دی.ننګ پر مځکه، وطن، ملګري، میلمه خو کیږي چې کیږي خو تر ټولو موثره بڼه یې پر زنانو د ننګ کولو ده. د ننګ په هکله ډیرې غاړې، ټپې، سندرې، بدلې او غزلې د پښتنو په شفاهي او جدید ادب کښې خوندي دي. ستر خوشحال هم ددغه تصور غیرګون داسې کړی دی.

چې د ننګ په چارو نر نۀ وي خوشحاله!

که یې نر وینې په سترګو هم ماده دی (12)

پوهاند صدیق الله ریښتین په خپل اثر، "پښتنې لارښود" کښې د ننګ پر تصور او عمل خبره کړې ده. ننګ پر کوم وخت او د چا لپاره کیږي په دې هکله هغه لیکي:

"د پښتنو د ننګ او غیرت ځایونه دا دي: ځمکه او وطن، ښځمنې او تورسرې، ژبه او دین، قوم او عزیزو نوکر او ګاونډی، میلمه او آشنا ، مال او څاروې، مطلب دا چې که څوک د پښتون په دغو شیانو تیری او ذیاتي وکړي یا ورته سپک وګوري ، نو دی به هرو مرو وربانديې ننګ او غیرت کوي او د زورګیر او زیاتي کونکي لاس به ور لنډوي".(13)

ولې له دې پرته پښتنې ټولنه دنارینه ود هر ډول طبعي، نفسیاتي او جنسي تشدد په هکله د پښتونولۍ په دود کښې د بدلې یا پور بشپړه قانون وجود لري. پر پښتنې خاورې مېشته ځایي قبیلې او کوچیاني ټولنې ځان ته خپل نرخونه او پورونه لري.

بله خبره دا هم د چې په ټولنه کښې چې د تشدد و کوم عمل ته جواز ورکول شوی دی هغه تر ډېره حده خلق خپل انفرادي فعل ګڼي او دلته هغه دټولنې د احتسابي نظام په شکنجه کښې نۀ راځي. د ریاست او د لوړې سويې د عسکري او سیاسي تنظیمونو و تشدد ،و هلو ووژلو وعمل ته وکتل شي نو په دې هکله د پښتني روایتي ټولنې له خوا څۀ خاص منظم ردعمل په سترګو نۀ دی راغلی.کوم تشدد چې د کور، کلي یا علاقې پر سویه پښتانه د کورنیو او قبیلوي جنګونو له پاره کوي، هم هغه ډول مقاومت، پیاوړتیا او بهادري د ملي او اجتماعي دښمن په مقابل کښې نه تر سره کوي. د پښتنو

په روانو خونړي جنګونو کښې کلي، کورونه او ښارونه هوار کړل شول، دا ټول د هغوی سره مخصوصه خلګو او ګوندونو و کړ خو د یو سو زره کسانو سره د ډغري وهل قوت په پښتني قبائلي ټولنه کښې نه ووځکه دا مهال په داخلي او خارجي توګه د خپلې خاوري څخه شړل شوي تر ټولو ذیات خلګ پښتانه دي. د پښتنو د جنګ، تشدد، او وسلې زیاتره استعمال په ټولنه کښې دننه کیږي او دغه اسلحه او قوت په زیاته بیا قبائلي پښتانه د خپلو تربرو او عزیزانو د شر څخه د بچ ساتلو یا هغوئ مرعوبه کولو لپاره تر لاسه کوي.

جنګ و جدل که څه هم د روائتي ټولنې یو مهم عنصر پاتي شوي دی خو د پښتونولۍ دود دستور د جنګ په هکله بشپړه اخلاقي او ټولنیز اصول لري. د بیلګي په توګه که یو کس پر بل کس توپک یا توپنچه یا د وهلو او وژلو بله آله را وکاږي او د دهغه د وهلو کست وکي، او هغه ورڅخه بچ هم شي، خو بیا هم د روغي جوړي په وخت کښې به د دې آلې خپل پور ټاکل کیږي او هغه بل فریق ته به یې ور ادا کوي. هم دغه خبره وه چي په پښتنو کښې یې د توپک د ځای تعین کړی وو. توپک سل کاله بار یوه ورځ په کار معنا هم دا وه چي توپک د هري سپکي پیښې لپاره له دیواله نه کوزیدی. خو د توپک او وسلی سره تړلي دغه اقدار او تصورات د تیرو څلورو لسیزو د جنګي حالات په ترڅ کښې بیخي بدل شوي دي.

قبائیلو تر مینځ چې کوم توازن (انډول) په روایتي توګه وجود درلودلی دی هغه هم تر ډېره حده له مینځه وړل شوې دې .ولې چې دلته داسې قبیلې چې د ثور انقلاب په ترڅ کښې رامینځ ته شوي جنګونو کښې له سره ګډون نهٔ دې کړې او نورې داسې قبیلې دي چې د جنګونو ددغو لړیو په دوران کښې هر وخت ټوپک په لاس پاتې شوي دي. اوس دا مهال چې کومه ګډ وډي (Anarchy) په دغو سیمو کښې پېښه شوې ده او د بین المللي ترهګرۍ ځانګو ګرځېدلې ده، ځکه نو دلته په خوا و شا سیمو کښې دهغوی سره ډغره وهلو او بدل اخېستلو ډېر توان وطاقت او تنظیم په نظر نهٔ راځي.ځکه نن دسوبلي پښتونوخوا په ساحه کښې دپښتونولۍ د بدل اخېستلو دغه قدر خصوصاً د

رياستي ادارو، عسکري سياسي او مذهبي عسکري تنظيمونو څخه ډېر غېر موثر ښکاري چې سوب يې د طاقت او جنګي مهارت فرق دی.

د نوي عصر د حقوقو تنظيمونو چې روايتي نظام غندنه کوي او د جرګې، پنچائيت او نورو داسې روايتي ټولنيزو ادارو ته عبث او خصوصاً دبشري او زنانو د حقوقو په ضد يې ګڼي خپل فکري دريځ د بېلا بيلو پلټنو، کېس اسټډيز او شهادتونو په مرسته کوي. که دهغوی ودريځ ته غور کښېښنود شي نو خبره ترډېره حده اړخ هم لګوي. ولې چې په زياترو روايتي ټولنو کښې چې د وګړو تکيه پر خپل ناليکلې ژونددود وي، داسې پدرشاهي روايات لري چې په کښې د زنانو، کوشنيانو، ټولنيز او مذهبي اقليتونو (لږکيو) حيثيت پست او بې قدره وي.

د پښتني ټولني تنقيدي څېړنه هم دغه حقيقت څرګندوي چي په ټولنه کښې پر زنانه او کوچنيانو د طبعي تشدد، زهني او نفسياتي تشدد جواز تر ډېره حده شتون لري. د نوې وخت پښتني سياسيَ ټولنيزو، ادبي او تعليمي ګوندونو په دې هکله چنداني د ذکر وړ کار نه دی کړی. نن ضرورت د دې خبري دی چي پښتانه د نوي وخت په نبض ځان پوهه کړي. د عدم تشدد هغه ورک شوی سبق نن بيا د پښتني سيموته ارزښت لري، ولي چي د تشدد په سوب نفرت، کرکه اوتعصب زيږي او د عدم تشدد په روئيو کښې مينه، خپلوي او اعتماد شامل وي.

***

# حوالې

1) Taylor, Steve, How Natural is war to Human Beings, The case for a peaceful past, accessed on Aug 11th 2016, https://www.psychologytoday.com/blog/out-the-darkness/201609/how-natural-is-war-human-beings)

2) Ali, Mubrak, The story of Civilization, the Old Stone Age, Tarikh Publication Lahore, 2013, Page.31)

3) Ibid.32

4) Basic, Denis, War and Human Nature, accessed on October 10th, 2016. http://courses.washington.edu/intro2ir/POLS203/Study_Guides/Entries/2013/10/14_Week_IV_-_War_&_Human_Nature_files/Shimko%20Ch%2005F.pdf

5) Howard Zin, People's History of United States 1942 to present, E-book, p.4, available at http://www.thegoyslife.com/Documents/Books/ last accessed on June 20th 2014.

6) The Mirror Neuron Revolution: Explaining What Makes Humans Social, http://www.scientificamerican.com/article/the-mirror-neuron-revolut. Last Accessed Match 23, 2012

7) Definition of Violence by Alliance for the Prevention of Violence http://www.who.int/violenceprevention/approach/definition/en/ Last Accessed Match 2, 2012

8) Encyclopedia Britanica online; http://www.britannica.com/domestic-violence last accessed March 21,2014

9) Global Report on Gender Gape 2014, http://reports.weforum.org/global-gender-gap-report-2014/report Last Accessed Match 12, 2012

10) محمد انور نومیالی (اکېډمیسن) ، د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي، خپرندوی علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار دویم چاپ کال ۲۰۰۷ء ، مخ ۹۷

11) قیام الدین خادم، پښتونولي، خپرندوی پښتو ادبي غورځنګ کوټه، دویم چاپ کال ۲۰۰۲ء، مخ ۳۵